زه په يوه کلمه پوهيږم چې که ويې وايي، نو غصه به يې لاړه شي، که چېرته: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ) يعنې: زه له شيطان څخه په الله پناه غواړم ووايې: نو هغه څه به تريې لاړ شي چې دی ورسره مخ دی

د سليمان بن صرد رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وم چې دوو کسانو سره يو بل ته کنځلې کولې، نو د يو مخ سور شو او د مړ رګونه يې (له ډېرې غصې) راوپرسېدلې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "زه په يوه کلمه پوهيږم چې که ويې وايي، نو غصه به يې لاړه شي، که چېرته: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ) يعنې: زه له شيطان څخه په الله پناه غواړم ووايې: نو هغه څه به تريې لاړ شي چې دی ورسره مخ دی" نو هغوی ورته وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وايې چې: له شيطان څخه په الله پناه وغواړه»، هغه وويل: آيا پر ما ليونتوب دی؟

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

دوو کسانو د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر وړاندې سره يوبل ته کنځلې وکړې، په داسې حال کې چې د يو مخ سور اوښتی و، د مړ خواوشا رګونه يې پرسېدلې وې. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه داسې يوې کلمې باندې پوهيږم چې که دا غصه کوونکی يې ووايي غصه به يې لاړه شي، که چېرته: أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ووايي. نو هغوی ورته وويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وايې چې له شيطان څخه په الله پناه وغواړه. هغه وويل: آيا زه ليونی يم؟! دا ګمان يې وکړ چې يوازې ليونی انسان له شيطان څخه پناه غواړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3578